سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۲/۱۱/۱۰

# دپښتون ولس او افغان ملي دولتونو ترمنځ
## د ډیورنډ استعماري سره کرښه
(ځلورمه برخه)

### ١٢ . د طالبانوسختدریځه اسلامي غورځنګ او د انګریزانو استعماري کرښه

د ډیورنډ کرښي په دواړو خواو کي پښتانه د لرغونو زمانو څخه د دولتي، تاریخي، سیاسي، مذهبي، ژبني کلتور ي وپش ګډ ژوند لري او هیڅوک نه شي کولي دوی د کر ښي دخوا او هاخوا پښتانه په نوم سره بیل کړي. د افغان ولس د ورستیو دري دیرش کلني جګړي په بهیرکي دلومړی ځل لپاره د ډیورنډ کرښي په دواړوغاړو کي د لر او برو پښتنو څخه له هراته تر سواته یو وسله وال غورځنګ دطالبانو اسلامي تحریک په نامه رامنځ ته شوي دی. داسي ښکاري چي ډیورنډاستعماري کرښي ددوسله والو طالبانو د جګړیزو خوځښتونو مخه نده ډب کړي. افغان طالبانو د خپلي واکمني پرمهال او نه هم اوس په لوی افغانستان کي د ډیورنډ استعماري کرښي خیال ندی ساتلي.
پاکستان پوځي رژیمونواو د آی. اس. آی استخباراتي شبکو په اتیایمه لسیزه کي لومړی له مجاهدینو او ورسته له طالبانو سره مرستي کړي.
په افغانستان کي د پاکستان استخباراتي شبکي آی. اس. آی دناوړو دومخي پښتون ضد سیاستونو او پاکستان د خپلي ستراتیجکي ژوري دعملي کولو په بهیر کي پوځي جنرالانو داسي منفي کړني اوسیاسي تیر وتني د افغان جهاد پر مهال تر سره کړي دي چي د ډیورنډ استعماري کرښي نړیوال مشروعیت، رسمیت يي عملا پخپله له منځـــهٔ تلل دی.
اوس دغه فرضي، خیالي، استعماري سره کرښه یواځي د پښتنو په فکرونو او د کاغـــذ پر مخ په نقشه کي ښکاري. جوته خبر ده چي دکرښي په دواړو خواو کي ډیری طالبان پښتانه دي، خو ټول پښتانه بیا طالبان ندي. په دی کي هم هیڅ شک نشته چي طالبان د افغانستان د دیرش کلني جګړي جنګي ماشومان دي.
افغانستان کي د طالبانو غورځنګ او ددوی سختدریځه رژیم برخلیک ټاکونکي نبښونکي تیروتنو لست ډیر اوږد دی. دا یوحقیقت دی چي طالبانو د خپلو غلطو سختدریځو،ړندو سیاستونو او د یو افغاني، ملي، وپش سیاسي شعور نه درلودلو له امله نه یواځي دوی خپل ځانونه تباه کړل، بلکي دوی افغان پښتون مظلوم یتیم ولس يي له ډیرو روا هیلو،له خدای ورکړي شوي رښتو یاحقونو بي برخي کړو،افغانان يي دنامالومي موديٍ لپاره د وینو، ویرنواو غمونو په ټغرکیناولو.
تر اوسه داسي ښکاري،چي دپنجاب پوځي جنرالان او د آی. اس. آی کرنیلان د طالبانو له ځینو ډلو څخه د ډیورنډ کرښي په دواړو خواوکي دپښتون ولس راویښیدونکي ولسي ځواک په ځپلوکي ،د پښتون ولس وپش قامي ملي وحدت په مخنوي کي او د پښتنو دملتپالني پاک روا احساساتو په وړاندې د یوي بدرنګه اسلامیستي سیاسي الي په څیر او دیوي ګواښمني ستراتیجکي وسلي په توګه کاراخلي.
د پنجاب جنرالان هڅه کوي لدې لار ي په پښتنو کي له یوې خوا د افغانانو ملي ځواکمن خپلواک دولت مخه ونیسي، د کرښي په دواړو غاړو کي د پښتونپالني ملي پاک احساسات، د پښتون ولس تاریخي لرغوني هویت، قامي حیثیت وقار او کلتوري یووالي د اسلامي ماسک په اغوستلو سره وځپي، له بلې خوا د پنجاب واکداران، استخباراتي اجنټان د طالبانو په لاس دپښتنو خپلواکه ملي مخورو بیګناه پوهه ، لویان ،مشران او سپین ږیرو وژني ترسره کوي او د پښتنو ماشومانو خاورین ښوونځي په بمونو وړانوي، دغه ښوونځي بیا په دیني ایډیالوجکي جنګي مدرسې بدلوي او د خپلو بدرنګه سیاسي موخو لپاره استعمالوي.

دا ثابته خبره ده ،پر افغانستان باندې د ناټو دپوځي یرغل اصلي لامل د طالبانو خام ،لند،ګوتګ اونه ډیپلوماتیک سیاست وو. طالبانو نړیوال کرکیچن ډیپلوماتیک سیاست ته په خپلو کوشنیو سترګیو کي کتلو. سختدریځه طالبانو دنن ورځي خوراکرکیچن نړیوال سیاست ، په یو ساده تونل لید سیاست کي کوري .د طالبانو ځیني مشرانو لاتر اوسه په دې نه پوهیږي ،چي ددوی اسلامي خود جوشه غورځنګ څنګه او په څومره مهارت سره دبهرنیو استعماري ځواکونولخوا دسیمي په سیمه ییزو سیاسي معادلاتوکي د افغان بي دفاع ولس په وړاندې استعما لیږي په ۲۰۰۱ کال کي کله چي دامریکایانو لخوا د طالبانو رژیم ونړول شو، تر دې ورسته ډیر پښتانه طالبان او د دوه زرو څخه ډیر د القاعدې نړیوال جنګیالي د افغانستان څخه دپښتونخوا قبایلي سیمو ته په تیښته بریالي شول. (۱)


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

بهرنې جهادي جنګياليو د شوروي اتحاد په وړاندې د جهاد له مهاله په قبايلي سيمه کې پيژندګلوي او پلويان درلودل. دوی د جهاد له مهاله د سيمه ييزو خلکو سره نږدې کورني اړيکې درلودې اود ځای ميشتو وګړو سره وادونه هم کړي وو. دسيمې خلک دبهرنيو جهاديانو سره له پخوا څخه مذهبي ايديالوجيکې خواخوږي درلودله. بهرنيو جهاديانو د قبايلي سيميزو خلکو د نيمه خپلواکۍ، له سياسي، حقوقي ، اقتصادي بې وزليو، د دولتي درېګوني ځواک تشې، نالوستيتوب او د بشري حقوقومحروميت څخه پوره خبر وو.
د القاعدې نړيوال جهاديانو دقبايلو ځينو ملکانو او دقومونو ځيني ځوانانو ته نقدي مرستې هم ورکولې، د همدغو ځوانانو مغزه په مذهبي مدرسوکې د نړيوالې جهادي ايديالوجې کې ورمينځل شول او قبايلي سيمه د ترهګرو په مرکز بدله شوله. دآزادو قبايليان څخه د خپلې خاورې اختيار، د جرګو او فيصلو واک ورو ورو وخيستلو شو. له همدې سره آزاد قبايل د خپلي ددوديزه قبايلي جوړښتونو، د پښتونوالې، رښتينوالې، د انساني نورو لوړو ارزښتونو او لرغوني دودونو څخه لرې وساتل شول. د همدې لاملونو په وجه بهرنيو جهاديانو نه يواځې په قبايلو کې ځای ومند، بلکې دوی د پاکستان د ای. اس. آی. استخبارتي شبکو په مرسته له همدې قبايلي سيمې څخه افغانستان کې په بهرنيانو ځواکونو باندې بريدونه هم پيل کړل. په همدې حالت کې د قبايلو او سيميزو مذهبي ډلو تر څنګ په سلګونه عرب، اوزبک، چرچيني، تاجکې او پنجابي اورپکې ډلې قبايلي سيمه کې د واک ځواکمن فکتورنه وګرځيدل. ورسره د دوديزه لرغوني قبايلي جوړښتونو ودې مخه ډب کړل شوه . له همدې سره دلر اوبر د پښتون ځوان نسل او بې ګناه پښتنو وژنو ته لاره خلاصه شوه.
پښتانه د ډيورنډکرښې په دواړو خواوو کې د هوا او ځمکې له لارې او دځانمرګي بريدونوله امله بې ګناه وژل کيږي، کورنونه يې ورانيږي، د خلکو امنيت خوندي ندی، ښوونځي سوځول کيږي، روغتونونه شتون نلري او د پښتنو په سيمه کې مطلقه بې روز ګاري، کار او بار، د پوهنې او د ژوندانه پرمختګ دروازې پرې تړلي شوي دي، دلته له يوې پيړۍ څخه وخت او زمان ټول په ټپه ديو ستر ولسي پاڅون لپاره چمتو شوي ولاړ دي. د ملګرو ملتونو يو راپوټ وايي چې د پاکستان قبايلي سيمې په روان ميلادي کال کې تر بل هر وخت په وينو لړلې وې او د تير کال په نسبت په دې سيمه کې د تاوتريخوالي اندازه شپيته فيصده نوره زياته شوې ده.
د آزادو قبايلو په سيمه کې تير کال کې۱۲۰۰ وګړي د سياسي، پوځې عملياتو او زور زياتي له وجهي وژل شوي دي (۲)
په ۲۰۱۰ کال کې پاکستان په سهيلي وزيرستان کې د پاکستاني طالبانود تحريک په وړاندې سخت عمليات تر سره کړل. په دې اړه د همدې ليکنې په لومړۍ او دوهمه برخه کې يو څه رڼا اچول شوي ده.
د ويکي ليکس وېبپاڼې د مالوماتو له مخې د پاکستان پوځ او آی. اس. آی استخبارتي شبکې له دې ويريږي، چې که طالبان په افغانستان بيا واک تر لاسه کړي د پاکستان امنيت او پايښت لپاره ګواښمنې پايلې به ولري. اوس ځينې پاکستاني چارواکې وايي، موږ نه غواړو چې خپلواک طالبان بيا پر افغانستان واکمن شي .
پاکستان د خپلو ستراتيجک چلونو له لارې تل هڅه کړې، د افغانانو اسلامي ګوندونه، سياسي ډلې دخپلو شومو پلانو لپاره د افغان ستر ولس په وړاندې استعمال کړي. د پښتونو اسلامي ګوندونه او مذوري اورپکې ډلې د پنجابي پوځ او آی. اس. آی. له خوا داسې روزل شوي، چې دوی ته اجازه نشته په پاکستان کې د پښتون افغان ولس د بيا يووالې نوم واخلي. د پنجابي پوځيانو لخوا ځينو پښتنو ته د خپل هويت افغان نوم اخيستل حرام ګرځولي شوي، دغه ډله مذهبي پښتانه په ډګر نشي وايلي چې موږ د انګريزانو لخوا د ډيورنډ استعماري کرښه په خپله پلارني اسلامي پښتنه خاوره کې نه منو. د پنجاب جنرالان د پښتنو د آزادۍ غوښتونکې احساسات او دپښتنو بيرته يووالي د اسلام سپيڅلي دين خلاف بولي. د پنجاب څارګري اداري د آی. اس. آی ملايانو لخوا د پښتنو ځينو سختدريځه اسلامي ډلو ته داسې درس ورکړل شوي چې د انګريزانو لخوا د پښتنو پر اسلامي خاوره باندې ديستل شوي ليکې ټولواو د لر او بر پښتون افغان ولس تاريخي بيرته يووالي حرام دی .کله چې کومه افغاني پښتنه اسلامي ډله يا ګوند دپښتون ولس د هويت نوم واخلي، پاکستان د غه نازوالي روزل شوي زوي سمدستی حاق کوي او دپنجاب د آی. اس. آی لخوا د لوی افغانستان په سياست کې ګوښه کيږي.
د طالبانو په اړه دپاکستان دوه مخي سياست ټولو ته څرګنددی. د پاکستان پوځ او آی. اس. آی هغو طالبانو ته چې د پاکستان په وړاندې جنګيږي او پاکستان ته يې د توپک خوله اړولې ده ترهګر وايي او هغه طالبان چې افغانستان کې جنګيږي مجاهيدين بولي. کوم طالبان چې خپلواک او ملي افغاني فکر لري هغه اوس په واک کې نه مني.
د پاکستان آی. اس. آی د قبايلوځايي طالبان د پاکستان دښمنان بولي. د لر او بر طالبانو د خپلمنځي او د يووالي په اړيکو کې آی. اس. آی خنډونه جوړوي. د پاکستان آی. اس. آی بيريږي چې لراو بر پښتانه طالبان د پنجاب تور سياست په وړاندې سره يو موټې نشي. د پاکستان د آی. اس. آی لخوا سوله خوابښوونکې او سوله کوونکي افغان طالب مشران سمدستي له صحنې لرې کيږي، بنديان او وژل کيږي.
ملا عبدالسلام ضعيف په پاکستان کې د طالبانو د اسلامي امارات سفير ،دی د طالبانو د رژيم له پرزېدو وروسته د ۲۰۰۲ کال په جنورۍ کې دپاکستان د آی. اس. آی لخوا په اسلام اباد کې ونيول شو او امريکايي ليوانو ته د آی. اس. آی د افسرانو له خوا لکه يو پسه خرڅ او وسپارل شو. دی څو کاله د ګوانتنامو په بدنامه زندان کې بندي وو.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ملا عبدالسلام ضعيف د پاکستان په اړه د خپلي يوې ليکني (پاکستاني جيلونه) په يوه برخه کې ليکي :
زموږ ګاونډی پاکستان دامريکاترغوړيدلې سيورې لاندې دافغانانو پر عزت څه لوبې رواني کړی دي؟ پاکستان چې په آسيا کې کليدي رول اداکوي په چلبازي کې دومره ماهره دی چې ترډيره په وچه غوا شيدي کوي، په يوه بام کې دوې هواوې غواړي، په يوه حلقه کې دوې ژبې لري اوپه يوه سرکې دوه مخونه لري ترڅو دهر چا په ژبه پوی شي، دهرچانه کارواخلي اوهر څوک وغولوي چې ګواکې مخ يې ددوی په وړاندې دی، عرب يې داسلام داوسني اټومي قوت په نامه پوښلي دي چې ګواکې داسلامه اواسلامې هيوادونوبه دفاع وکړي، امريکا او اروپا يې دتروريزم ضد اتحادپه نامه وخوړل، دپاکستان اونړۍ نور مسلمانان يې دکشمېر دجهادپر نامه تير ايستلي دي آما د پردې شاته يې له هرچاسره دغدراو خيانت لوبه روانه کړی ده. اسلام اوجهاد خو يې داسو چې يوګاونډی اسلامې هيواديې دخپلي خاوري نه په کفري قوتونو لوټې لوټې کړ خپل هوايې ډګرونه يې دمسلمانانو دوژلو اوداسلامې هيواد د ورانولو لپاره دامريکاپه واک کې ورکړه، دعربو سره وفاخوداسوه چې عرب ډيپلوماټان، ژورنالستان، عام خلک، مجاهدين چې هيڅکله يې دوی ته تاوان نه وه رسولی د څو ډالرو په بدل کې په امريکايانو باندې دڅارويو په څير په پيغورونو او ښکنځلو بالا وپلورل اوپه آيبټ آبادکې داسامه پر سرلوبه لاتراوسه هم پوره نده معلومه چې څنګه روانه وه اوده؟ اوڅومره ګونګه اومرموزه ده؟ اټوم خو لاخدای خبر چې دمسلمانانو اواسلام د دفاع لپاره وکارول سي، بلکه ددې امکانات ډير سته که داقوت دداسې لاسونو پر کنټرول کې وي لکه دی ډيرامکان لري چې دمسلمانانو په ضدترينه کارواخستل سي.

هغه بنديان چې دپاکستان دڅارګرو ادارو دساتني اوتحقيق وروسته امريکايانو يا د افغانستان اداري ته سپارل کېده دومره به يې شکرونه کښل لکه چې ببخي خوشي کېدو ته نژدې سوی وې، هغوی به نسبت امريکايي مظالم پاکستان ته په نه څه ګڼل ما د ځينو بنديانو څخه دا پوښتنه څو څو ځلي کړي ده چې افغاني اوامريکايي چلند او محبسونه بد دي که پاکستاني محبسونه؟ هغوی به افغاني او امريکايي زندانونه ترپاکستاني محبسونو ډيرښه بلل تردې چې يوه بندې په ډيره قهرجنه لهجه راته وويل چې امريکايان خو نسبت پاکستاني څارګرو ته مسلمانان دي، ياني چلنديې تر هغوی ښه دی، هغو بنديانو چې دافغانستان او پاکستان امريکايانو چلند ليدلی دی هغوی ته ډير ښه معلوميږي چې څوک ښه اوڅوک بد چلند لري او داسې نور (۳) .
زما په اند داليکنه په زړه پوري ځکه ده،چې دغې طالب ډيپلومات څوکاله د پاکستان د ګټولپاره خپل هيواد، خپل ولس ،خپل رژيم ، خپل ډيپلوماتيک حيثيت صفر ته را ټيټ کړي وو . کله چې ده له رسنوالو سره دخپل رژيم د سياست په اړه ډيپلوماتيکې مصاحبې کولې،د ده تر شاه به د آی. اس. آی افسران د څارني لپاره ولاړ وو . ده به د اسلام اباد له ستيژه څخه د خپل رژيم سياست نړيوالورسنيو ته تشريح کولو. د ده په خپل هيواد کې د ده پر خپل با عزته بې وزله ولس باندې د آی. اس. آی ملايانو په اشاره دپاکستان د اقتصادي پرمختګ لپاره په افغانستان کې په هر شي باندې ان په انځوريزه رسنيو باندې د اسلام په نامه بنديځ لګولي شوي وو .چې تکرار يې لازم نه دی . پوښتنه دا ده چې ولي ملا ضعيف دومره موده د ورسته وپوهيدو،؟ بايد هر يوه پښتون د ملا ضعيف په شان دغه تجربه وکړي او دی بيا ژوندي پاتي شي،هلته به بيا دی دخپل ستر ولس دوست او دوښمن پيژني ؟ اوس داسې مالوميږي چې د طالبانو د مشرانوپه فکرو نوکې د پاکستان دوه مخي سياست په وړاندې ژور بدلون راغلي او دا بدلون دپاکستان جوړښت او پايښت لپاره د خطر يوځواکمن زنګ دی. په لومړۍ قدم کې به همدا بې نامه، بې نشانه استعمار شوي استعمال شوي آزاد قبايل چې په يوويشتمه پيړۍ کې د انګريز دايف، سي، ار دبشريت او اسلاميت ضد تور قانون په پنجرو کې داسلام اباد دګټو لپاره لرې ساتل شوي دي را پاڅي . خودمختاره قبايليان مجبور دي ځان په خپله له دغې ناوړه سياسي حالت او جنګې چاپريال څخه خلاص کړي . نن هر آزاد پوهه قبايلي پوهيږي چې دوی ته د پاکستان په فدرالي نظام او اساسي قانون کې هيڅ ډول بشري، ټولنيز حقوق منل شوي ندي. دوی مجبور دي خپل په هوا کې معلق ولاړ برخليک، ويشلې سپک حالت ته بدولون ورکړي. پښتانه به ترڅو د پنجاب د دفاع او حکمراني لپاره د خپل ورور ګرانه وينه تويېه وي.

نن هر پښتون افغان پوهيدلي چې د جنګ او جګړوپه بهيرکې د پښتون ولس ترمنځه قومي، قبيلوي او د انګريز استعمار فرضي،تحميلي ويشلي تورې کرښې لمنځه تللي دي. دوی بايدپه جګ اواز د افغانستان د مرکزي ملي خپلواک دولت څخه لکه نور افغان وګړې تابعت واخلي او د افغانستان په اداري چوکاټ خپل ځای ونيسي. آزاد قبايل د لر او بر پښتنو او د لوی افغانستان په جوړولو کې د منځ زړي رول بوي. دا بهير دلوی افغانستان لپاره، د سيمې او د نړيوال امنيت لپاره، د سوله، ثبات، سوکالي او د ترهګري په وړاندې يو ستر مثبت ګام به وي .
پاکستان د طالبانو سمبالوونکې او مرسته کوونکې د خپل ستراتيجک بري لپاره اوس بايد يوه ستره سياسي بيه ورکړي. پاکستان ډيرهڅه کوي چې لر او بر طالبانو سره بيل او لرې وساتي، يو ترهګر بل مجاهد بولي. د طالبانو غورځنګ رامنځته کيدو او بري سره سم د ډيورنډ استعماري کرښه عملا يو ځلي بيا لمنځه تللي ده. لر او بر پښتانه طالبانو له هراته تر سواته په ديني مدرسو کې په يوه ژبه د آی. اس. آی له ملا څخه زده کړه کړي ده.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

د طالبانو په ليکو کې هر خپلواک طالب ته د پنجابي آی. اس. آی د اجنټانو ناوړه چلند او منافقت ښه مالوم شوي دی. کوم تاوانونه چې د آی. اس. آی د استخباراتي شبکې له خوا د طالبانو غورځنګ ته رسيدلي دي، دهغي حساب يو خدای ته مالوم دی.
اوس د طالبان دغورځنګ مشران مجبور دي چې واک ته له رسيدو سره په مناسب فرصت کې د پنجاب د آی. اس. آی له افسرانو او يرغلګرو سره د خپل بې حقوقه، بې خبره تاريخي مظلوم ورور حساب تصفيه کړي.
طالبانو په لومړی ځل د امريکايانو سره دسولې خبرو اترو په بهير کې ځان دپاکستان هيواد له سياسي اغزي او منځګړتوب څخه يستلي دی .اوس طالبان په خپلو ليکو د پنجاب له سياسي نفوذ او اغيزي څخه په تدريجي ډول ورو ورو ځان راوباسي. له همدې سره پاکستان خپله اغيزه پر طالبانو باندې له لاسه ورکوي . دطالبان ځواک نوره د پاکستان د ای،ايس ،ای او د دوی ګټو لپاره د يو محرک بی مسووليته پوځ نه دی .
اوس د يوی لسيزي په تيريدو او د ترخو تجربو سره خپلواکه طالبان پوه شوي چې پنجاب له دوی څخه ډيره ناوړه سياسي او ستراتيجکې ګټه اخيستي ده .دطالبانو غورځنګ ډير و جګپوري مشران پوهيدلي دی چې دوی د پنجابيانو او عربانو له خوا د خپلو سياسي موخو لپاره استعمال شوي دی . دوی بايد ځان له القاعدې او ای ايس اس څخه خلاص کړي. داسي انګيرل کيږي چې ډير ژر به لراوبرخپلواکه طالبان دخپل ګډ دښمن په وړاندي سره يو موټي شي. دوی به خپله مورني سپيڅلي پښتنه خاوره، د افغان ستر مظلوم ولس او ځانونه د پنجابي، ايراني، روسي، انګريزي او امريکايي استعمار ګرو له ظلم او بر باديو څخه خلاص کړي. افغانستان کې طالبان به له نور افغانان سره په خپل هيواد کې دسوله،ثبات ، ملي يووالي،ملي پراخ بنسټه دولت په جوړولوکې او ملي واکمنی په تينګولوکې مرسته وکړي .
همداوس خپلواکو طالبانو په قبايلي سيمه کې خپل قبايلي امارات ته ورته دولتي سيستم رامنځته کړي دی . دغو خپلواکو طالبانو په دې ورستيو کې د پنجاب پوځ او دولت ته هم د خپل توپک خولې ور اړولي دي . له همدې سره د پښتنو په مورني خاوره او سيمه کې د برتانوي هنداو برتانوي پاکستان دستراتيجکو پلانونه پای رانږدې شوي دی .
قبايلي پښتانه له لسګونو کالونو څخه د انګريزي پوليتيکل ايجنټ او د ملک سيستم، دايف، سي، ار تور قانون په پنجرو کې ساتل شوي، د خپلمنځي اختلافاتو، ترېګنيو، قومي شخړو کې نوره ستړي ستومانه شوي دي. دغو قومي شخړو او ترېګنيو دوی له ستر بدمرغيو، بې عدالتيو او نالوستيتوب سره مخامخ کړي دي. د قبايلي پښتنو بنسټيزو پرمختګ ته په لويه کچه زيانونه اوښتي دی. په قبايلو کې امن، سوله، ثبات او پرمختګ بهير په ټپه ولاړ دی. پښتانه قباېليان د پنجاب له دې چلونو ناروا او ظلم سياست څخه ډير په تنګ شوي دي. آزاد قبايليان د ټولو يرغلګرو ځواکونو څخه په ځانګړي ډول د پنجاب يرغلګرپوځ څخه په ټوله پښتنه خاورکې نفرت لري.
د انګريزانود ځواکونو يو ستر جنرال او قوماندان (سر روبيرټ) ليکي «موږ بايد له افغانستان څخه ونه دار شو، که افغانان خپل برخليک ته پريږدو، امکان لري چې دغه خبره په غوږو سمه ونه لګيږي. زه احساسوم چې دا به سمه ادعا وي چې هر څومره چې دوی ته موږ لږ په مخه ورځو. هغومره به دوی له موږ نه لږ نفرت کوي. که موږ تصور وکړو چې روسان پر افغانستان د يرغل هڅه وکړه او خپل لاس يې هندوستان ته وغزاوه، موږ ډير چانس درلود چې افغانان خپلي خواته راواړوو. که موږ د دوی په کورنيوچاروکي له لاس وهني نه ډډه کړي وی. (۴)
په افغانستان کې انګريزانو، روسانو، امريکايانو، پنجابيانو او ايرانيانو هغه څه وکړل چې بايدنه يې وای کړي. امريکايانو له ترهګري سره جګړه ، له پښتون ولس سره په جګړه بدله کړي،په تکتيکي ډول د جګړې د دوام لپاره داسي غوره شوي چې پښتون ولس د دښمن په توګه وپيژندل شي . له پښتنو سره ناوړه چلند او جګړه د يومنظم جنګي پلان له مخې پيل شوي دی . په سيمه کې دا ټول پښتون ضد قوتونه بايد پوهه شي ، دوی ته به د يو ستر او تاريخي ولس سره دښمني کول خطرناکه پايلي به ولري .

## ۱۳ . د افغانستان په راتلونکي ملي خپلواکه دولت کې خپلواکه طالبان

دا پښتونستان لوی افغانستان رامنځته کوي، دا دلراوبر وپښتنونه بيلويدنونکي پلارني خپلواک هيواددی .
ټول افغانان د واحد افغان ملت پر وجود دبيلتون تېل شوي استعمار توره کرښه نه مني او له امو څخه تر اباسينه پورې دغه هيواد د ټولو خپلواکو ملي افغانانو پښتنو شريک لوی کور او ټاټوبی دی. د پښتنو ترمنځ د ديورنډ کرښې اصلي موخه د برتانوي هنداو کابل ترمنځ د سياسي نفوذ سيمي معلومول وو، له همدې امله د ډيورنډ کرښې حقوقي، سياسي، ماهيت او څرنګوالي هيڅکله په نړيواله کچه ندی حل شوي. د ډيورنډ کرښه په سيمه کې يوه جيوستراتيجکه ناحل شوي نړيواله تاريخي مساله ده. پر افغانانو د پرلپسي پوځي يرغلونو له امله او د سيمې په اوسنيو کړکيچونو جنګي شرايطو کې دې مسئلې د حل په لاره کې افغان ملي خپلواک دولت ته بايد سم فرصت وموندل شي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

افغانان  په جدي ټوګه پوهیږي چې داکرښه په نړۍ کې دپښتون  افغان ولس برخلیک ټاکي،دډیورنډ تاریخي مساله د لراوبرو پښتون ولس  دراتلونکو نسلودبقا لپاره  یوه حیاتي  مهمه موضوع ده .

د افغانستان په پښتونخوا کې  پښتنو قبایلو تل د انګریزانو پر استعماري پوځي اډو او لښکرکوټونو باندې  بي له ویرې مخامخ بریدونه  د  افغان په ننګ او لوی افغانستان لپاره ترسره کړي دي . پښتانه  توریالي  جنګیالي دانګریزي پوځونو  په وړاندې د جګړو لپاره په خلاصو ډګرونو کې دافغانانو د خپلواکۍ لپاره  مخامخ دریدلي دي . پښتنو په خپل جګړیز تاریخ کې پر دښمن ناځوانمردانه  او پر بیګناه خلکو باندې دشرمه ډک بریدونه  نه دي تر سره  کړي .

په لوی افغانستان باندې  د انګریزانو دښکیلاک پرمهال وینسټون چرچل چې ورسته دې د انګلیستان  صدراعظم هم شو، ده  هغه مهال دخیتځ افغانستان یا پښتونخوا څخه د جګړو له ډګرونو څخه دډیلي ټیلګراف ورځپاني ته خبریالي کوله . وینسټون چرچل په خپله د پښتنو او انګریزانو د جګړو پرمهال د پښتنو د جنګیالیو ستانه کړي ده .دی لیکي د پښتنو او انګریزانو جګړیزي  اړیکې ځکه له تاوتریخوالي څخه ډکې دي ، چې دلته په افغانستان کې پښتانه قبایلي ننګیالي ، جنګیالي ځوانان  ښه سپورتي کرکټر لري .

په ډیر خواښینۍ سره د پښتنو ځینو قبیلو د خپل منځي  بدیو، تربګنیو، ځانځانیو، د جغرافیایي ستراتیجک خورا پیچلي موقعیت، د غرو درو اود اړیکو مخابراتي ټکنالوجۍ نشتون له امله، دوی په خپل سر او منفرد ډول، د آزادۍ غوښتونکې جزباتو سره په خپلواک ډول پر انګریزانو بریدونه ترسره کول. له همدي امله د پښتون ولس پاڅونونه، مقاومتونه او غزاوي یو ګډ افغاني خپلواک مرکزي ملي هویت نه درلوده.

اوس  په پښتونخوا  یا دډیورنډ کرښې په دواړو غاړو کې  د پښتنو کوشني اسلامي  دلې په هماغه انګیزه  په منفرد ډول  ډلې، ډلې  د روسي ،پنجابي ،امریکایي ،انګریزي  یرغلګرو  پوځونو  په وړاندې  د جګړو ډګرونو ته راوځوي . دا ډلې او ګوندونه د افغان ستر ولس لپاره په خپلو کوچنیو دیګونو کې په خپله  خوښه  او خوند  دپردیو په نسخو شوبا پخوي . اوس د دې وخت رارسیدلي دی چې دغه ډلې او یا ګوندونه  په یو لوی دیګ کې ټول  لراوبرافغان ولس ته د دوی په غونداو خوښه یوه خوړه  شوربا پخه کړي . له همدې لارې  د ټولو افغانانو ملي  یووالي ،تل پاتي سوله او امنیت رامنخته کیدی شي .

د افغانستان په ستراتیجکو مهمو ښارونو  پیښور او کوټه   کې د ملتپالو پښتنو  د یوې  خپلواکه  پښتونخوا یا پښتونستان غوښتنه، دا د دوی یوه سیاسي  اله  ده ، تر څو دوی خپله اغیزه  د پاکستان یا پنجاب ځواکمن دولت په وړاندې  نوره ځواکمنه کړي . د افغانستان  له پښتنو څخه دپښتونخوا په پښتنو کې د پښتنو بیرته یووالي روحیه، ویښ احساس ډیر ځواکمن  او د دوی په فکرونو کې دامسئله  په  ډیره  هوښیار ي سره  پټ ده . دوی په افغانستان کې د یو ملي باثباته دولت  رامنځ ته کیدو ته سترګه په لاره  دي .  د افغانستان راتلونکې اسلامي دولت باید هر افغان  او هري پښتني ته  د نړۍ د نورو مسلمانانو په څیر آزادي ، خدای ورکړي بشري  حقونه او سوکاله ارامه  سولیز ژوند تضمین  ورکړي .  راتلونکې افغان  ملي دولتونه مجبور دي ، دلراوبر پښتنو  دبیا یووالي لپاره  دنړیوالي ټولنې پام راوګرځوي او د ټولو پښتنو لپاره  به نړیواله کچه سیاسي ګرانټي برابره کړي ، تر څو د تل لپاره دپښتنې  په سیمو کې  تلپاتي سولې  رامنځته شي ، دافغانانو په خپل کورکې  د جګړو اور مړ، دخپل ورور  ناحقه وینه تویولو کولتور ته باید نوره  د پای تکي کښودل شي .

د پښتون ولس اوافغان ملي دولتونو ترمنځ د ډیورنډ استعماري  کرښې  درسمي ټولیدو لپاره  ته ټول هغه اړین توکې په راټولیدو دي . کوم  چې افغان ولس  دیووالي او خپلو روا ملي مخو ته درسیدو لپاره  ځښته ډیره اړتیا لري .  لر او بر افغانان  یا پښتانه   تر ټولو  لومړۍ   د جرګو له لارې یو ملي  منل شوي افغان  ولسمشر  او ملي منځلاري اسلامي دولت  له کمښت سره مخامخ دي . ترڅو  افغان ملي  خپلواک دولت  دپښتنو ملي مقاومت ، دپښتونو بیرته یووالي ،ملي غورځنګ دیو بین الافغاني تفاهم  له لاري دا فغانستان په دې  خورا حساسو تاریخي  جنګې شرایطو کې د اسلام اباد په وړاندې  په سمه  منطقي توګه  پلان ،تنظیم  او رهبري کړي .

افغانان  پښتانه د نړۍ څه باندې یو میلیاردو شریفو  دودیزه مسلمانانو څخه یوه برخه جوړوي . افغانانو د اسلام سپیڅلي  دین او خپلواکۍ لپاره نه هیریدونکې بلهاري وړ کړي دي .

ټول افغانان له امو څخه تر اباسینه   دانګریز ي او پنجابي استعمار خونړي سره کرښه  په خپله مورني خاوره  او پلارني هیواد کې نه مني . ټول افغان ولس  په خپل پلارني هیواد کې له امو څخه تر اباسینه  یو واحد ملي اسلامي منځلارې دولت غواړي . افغانانو په خپل شریک سولیز لوی کور کې  انسانیت ،افغانیت او اسلامیت باندې ټینګ خلک ولاړ دي ، دوی له افغان هندو، افغان سیک، افغان یهود،افغان عیسوي او له نورو  افغان قومو سره د ورور ګلوي مساوي  ټولنیز ژوند کړي  او په راتلونکې به هم  انشاالله  وکړي .

پښتانه له یو منافق مسلمان څخه یو ریښتینې  هندو ته ډیر  ارزښت ورکوي درنښت ورته لري  .

طالبا ن  زموږ  د لرغوني اسلامي پښتني ټولنې یوه څنګنه برخه ده . خپلواک طالبان دافغانستان په راتلونکې سیاست، ملي پراخ بنسټه  دولت جوړولو او ملت جوړولو کې چې دا درې دیرش کلنه جګړه  پای ته  ورسوي  مهم رول لوبلې شي  .  طالبان    د  یوي  سیاسي  ډلې  په  توګه  نوره    څوک  له  پامه  نشي  غورځیدلی  .

د ۲۰۴۱ کال  څخه ورسته طالبان   د افغانستان  په ملي سیاست او ملي  پراخ بنسټه افغان دولت کې د ناټو پوځونو له



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وتلو سره سم خورا مهم رول به لوبوي . نن په افغانستان کې ټولې جګړه ماري ډلې دې پایلې ته رسیدلې دي چې دافغانستان غمین خونړي کړکیچ پرته له سیاسي حل لاه بله لاره نه لري . افغانستان کې د تلپاتي سولې لپاره دطالبانو وسله وال غورځنګ او نوري وسله والې ډلې ډیر ې اړینې دي .طالبان به دافغانستان د راتلونکې ملي خپلواک پراخ بنسټه اسلامي دولت یوه مهمه برخه وي.

د څلورمي برخي پای

اخیځلیکونه :


1. Zahid Hussain, Frontlne . The Struggle with Militant Islam, New York 2007 S.120 und S.143.
2. Pakistan Institute of Peace Studies, Pakistan Security Report 2009 ,Islamabad 2010 S. 4 f.

۳ . ملا عبداالسلام ضعیف، د پاکستان په اړه ( د پاکستاني جیلونه ) په نامه دلیکنې یوه برخه :

4. Land der Blutenden Sinne ; Mit der Roten Armee in Afghanistan ;Deutsche Erstausgabe ro . Verlag GmbH Januer 1992




افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ